رحمت ربی ځیرکیار ۲۴/۰۹/۲۰۱۶

# د افغـان سیـکانو او هـیندوانو

## کـرغیـړن ژونـد او د بادشاه خان انسان دوستي

څو ورځې وړاندې مې د یوه افغان سیک ښاغلي دیاسینګ یو شعر په اینټر نیټ کې واورید چې هم یې خوښ کړم او هم یې غمجن کړم. دیاسینګ پکتیاوال افغان دی او دايي شعـر او شعـور دی:

انسانیت ته غاړه کښیږدو ...... انـسان شـو زه او تـه
کیـنـه نکـړو لـه یـوبـلـه ...... قـربان شـو زه او تـه
کرلـیـچي په کي نـشته ...... اواره د ه دا لا ر
راځـه چې لاس تر لاسه ...... پرې روان شو زه او ته
له یـوه نـوره پیدا یـو ...... څه فرق په ما او تا کې
نـو څه که هیندو سیک ...... یا مسلمان شـو زه او ته

زه به دومره ووایم چې ژوندی دې وي د پښتو سره د مئلي دیاسینګ پښتونواله او د ټول افغان ملت سره د ښاغلي دیاسینګ افغانیت! دېته وایي کلتوري سرېتوب، ملي پیوستون او بشري احساس. افغان دیاسینګه! مړینه ستاسې د شعور رڼا،هیواد دوستي او بشر دوستي نشي وژلی!

## سریزه

په افغانستان کې ګڼ شمیر سیکان او هندوان په جلال اباد کې اوسیدل، په تجارت اوحسابداری کې بوخت وو، او د ښار خلکو ته ګران وو. د دغه ښار په زوړ ښار کې یې ښایسته درمسال (عبادت ځای) جوړکړی و. په ډیرګمان سره په لسم ټولګي کې وم چې له ارنام سینګ نه مې د درمسال او هلته د سیکانو د عبادت د لیدلو هیله وکړه. هیله مې د زړه له کومې ومنل شوه. بل سهار ورغلم او ځپلی مې وویستلې. په درمسال کې یو سیک هارمونیه غږوله اویو بل تبله وهله. هارمونیه وال په ډیر غلي او خورا خوږ غږکې خپلی دیني سندرې اورولې او د تبلې کرنګ به د هارمونیه وال او هارمونیې غږ ته نځیدلو. هر څه په موازنه او ژور فکر روان وو.هلته راته د پښتو یوه مشهوره ټپه را په یاد شوه چې وروسته د احمدظاهر په غږ کې لاپسې مشهوره شوه

یـار مې هیندو زه مسلمان یم ......... د یار لـپاره درمسال جارو کومـه

روهیله پښتو فوروم د سکالو په جلال آباد کې د سیکانو مشر ارنام سینګ و. زما پلاراو هغه ملګري وو.

http://rohella-pashto-forum.com/forum/viewtopic.php?f=۳٦&t=۱٦۲۸

پلاربه مې چې کله جلال اباد ته لاړ، وروسته د ماسپښين له لمانځه به د ارنامسينګ دکان ته ورتللو او دوه درې ګينټې به دواړه د سترنج په لوبه کې بوخت وو. زه به هم د پلار سره د ارنامسينګ دکان ته تللم، په دوه علتونوو: يو داچې مشرځوی وم او د پلار ټول دوستان بايد وپيژنم، اوبل داچې ارنام سينګ ډير مهربان سړی و او زما لپاره به يې يو چينک د شيدو چای د لاچي، کلچو او زليبيوو سره راغوښت. ارنام سينګ يو ګوډ او ډير بې وزلي مسلمان ته د پياده په حيث کار ورکړی و. د څپليو او د غرمې د ډوډی لګښت يې هم ورکاوه، د دوه اخترونو په مهال به له کار نه معاف و، او د روژې په مهال به يې تر غرمې کار کاوه. پلار مې را ته داهم ويلي وو چې ارنام سينګ به بې وزله مسلمانانو ته د کفن ټوکر وړيا ورکاوه. په افغانستان کې د غير مسلمانانو وضعه د داخلي جګړې (۱۹۸۹تر ۱۹۹۶زييز) په مهال کرغيړنه شوه.

دغير مسلمان افغانانو په اړه دامريکې د بهرنيو چارو د وزارت راپور۲۰۰۷ په افغانستان کې نږدې ۱۲۰۰ کورنيو (۸۰۰۰ وګړيو) افغان سيکانو ژوند کولو. خو پخوا له داخلي جګړې [۱۹۸۹تر۱۹۹۶] نه، نږدې پنځوس زره سيکان او هيندوان اوسيدل. په افغانستان کې اتياسلنې (۸۰٪) سنيان، ۱۹٪ شيعه ګان، او نږدې ۱٪ نور دينونه (سيکان، هيندوان، او لږ شمير پټ عيسويان ژوند کوي. د عيسويانو شمير د ۵۰۰ او ۸۰۰ تنو په شاوخوا کې اټکل کيږي. بنايي ۴۰۰ بهايان به هم موجود وي). د داخلي جنګ او د طالبانو په مهال (۱۹۹۶سپتمبر تر ۲۰۰۱ اکتوبر) د غير مسلمان ديني ډلو ډيرغړي له افغانستان نه ووتل. په ۲۰۰۷ زييز کې، نږدې درې زره (۳۰۰۰) سيکانو او هيندوانو په افغانستان کې ژوند کولو. په دغه کال کې سيکانو په کابل کې اووه (۷) عبادت ځايونه لرل، او هيندوانو په څلور ښارونو کې شپږ عبادت ځايونه لرل. په کابل کې يوه کليسا او يوه سيناګوګ هم شته وې. د بهايي عقيدې پلويان په افغانستان کې له ۱۵۰ کالونو راهيسې شته دي. ټه برخه يې (۳۰۰ تنه) په کابل کې استوګن دي، او پاتی سل تنه يې د هيواد په نورو سيمو کې اړولي دي. د بهايی عقيدي غړي مرتد ګڼل شوي دي، او پخپله بهايي عقيده کفر (بلاسفيمي) ګڼل شوې ده. ولولئ:

*U.S. Department of State’s International Religious Freedom Report,* ۲۰۰۷



افغان سيکان د خپل عبادتځاي د مياشتني «لنګر»(وړياګډ خوراک)په حال کې – سونی اينجل راسموسين/الجزيره

Afghan Sikhs eat breakfast together at the langar in come together every month to share a communal meal[Sune Engel Rasmussen/Al Jazeera] mid-Dec ember

د سیکانو او هـیندوانو بریښنا پاڼـې

په کابل ښارکې د سیکانو غټ عبادت ځای په پروان کارته کې «ګوردواره» نومیږي. د سیکانو او هیندوانو د ټولنې مرستیال مشر روالي سینګ په ۲۰۱۵(دسمبر؟) کې وویل چې نږدې څلوېښت (۴۰) کالونه وړاندې [۱۹۷۵زییز] په افغانستان کې تقریبا پنځوس زره سیک او هیندو کورنیو ژوند کاوه. خو اوس یې شمیر۳۶۳ کورنیو ته راالویدلی دی. غټ اکثریت یې سیک کورنۍ دي. ددغه شمیر د راټیټیدلو علت دادی چې په وروستیو کالونو کې «پرلپسې ټولنیز تبعیض او تعصب» چلیږي. په کابل کې یواځې ۱۰۲سیک کورنۍ پاتې شولې، او یواځې په تیر کال کې له ۱۵۰ نه زیاتې کورنۍ له خپل هیواد افغانستان نه ووتلې. پخوا په جلال اباد او کندهار کې ډیرو سیک کورنیو ژوند کاوه، خو اوس یې «یوځو درځنې» پاتې شوې دي. په اوسني اساسي قانون کې د غیراسلامي دینونو حق خوندي شوی دی. هټیوان (دکان وال) کولجیت سینګ وایي چې په کاغذ سیکان مساویی حقوق لري، خو نوموړی «په شپه کې بهر نشي وتلی.» د ګوردواره د نورو ډیرو کورنیو په څیر، کولجیت هم خپله کورنۍ هیند ته ولیږله او پخپله د خپل کار لپاره پاتې شو. دخپلې عقیدې مطابق، کولجیت خپل سیک پټکی په سر تړي، ناخریلې ږیره، او فلزي بنګړی په لاس کوي. خو دغه رواج یې د «مزاحمت او وهلو» لامل ګرځي. د افغان سیکانو غټه جمعي کډوالي د کورنۍ جګړې (۱۹۸۹ تر ۱۹۹۶) په مهال پیښه شوه. د طالبانو په مهال (۱۹۹۶ سپتمبر تر ۲۰۰۱ اکتوبر) موظف شوو طالبانو ته امر شوی و چې د سیکانو او هیندوانو ټولنو ته دي درناوی وشي، په دې شرط چې هغوی به «جزیه» (مالیات) ورکوي او نور افغانان به له خپل دین نه، نه اړوي. دغه شان هغوی ته وویل شول چې باید ځانونه د غیرمسلمان په څیروښئ (زیړټوکر د سینې په جیب کې یا دلاس په مړوند کې وځړوي). دغه شان هغوي اجازه لرله چې په خپلو «ګوردوارو» (عبادت ځایونو) کې خپل دیني مراسم اجرا کړي، پدې شرط چې غږ یې له ګوردوارو نه بهر وانه وریدل شي. خو کولجیت سینګ وایي چې کله نا کله به سیکان د ځینو سرګردان طالبانو له خوا مزاحمت کیدل. د حامد کرزي او اشرف غني په ولسمشریو کې هم د سیکانو او هیندوانوسره کومه پام وړ مرسته نه ده شوې او ټولنې یې هرکال کوچنۍ کیږي. یو بل سیک (سیویندر) وایي چې پخوا له جګړو «موږ د نورو محلي ټولنو» په خوا کې ژوند کولو. خو دوخت په تیریدلو سره، دداخلي جګړې او طالبانو په مهال «زموږ په مقابل کې تعصب زیات شو. خلک د داخلي جګړو او طالبانو په واسطه متعصب شوي وو.» دداخلي جګړې په مهال، بیلابیلوځاییزو (محلي) کوماندانانو «په غیر قانوني ډول د ډیرو سیکانو کورونه او زمکې ضبط کړل» او نور مسلمانان یې هڅول چې د سیکانو سره تجارتي معامله ونکړي او اقلیتي ډلې کمزورې کړي.

«په جرمني کې د هیندوانو اوسیکانو مرکزي جرګه» کاږي چې پـه دغه هـیـواد کې د نـږدې ۶۰۰۰ هیندوانو او سیکانو استازولي کوي، او په هامبورګ، اِیسین، کاسیل، فرانکفورت [ماین؟]، شتوتګـارت او میونښـن ښارونو کې یې اړولي دي. نـږدې ۳\۲ [۶۷٪] یې په «ډیره ښه سویه» (زیر ګوت) په جرمني کې «ادغام» شوي او هیوادوال (تبعـه) شوي دي. خو نـږدې ۳۳٪ یـې د دې خطر سره مخامخ دي چې له المان نه واپس افغانستان ته وشړل شي.

افغان-جرمن سیکان او هـیندوان ګیله کوي چې قـومونه یې په افغانستان کې د «نـژادي تبعـیض او دیني تعـقیب» سره مخامخ دي، که څه هم سیکان او هیندوان له څه دپاسه دوه زره کالونو را هیسې (د بودیستانو سره یوځای) په افغانستان کې ژوند کړی دی. د بُن پوهنتون د الهیاتو پوهاند

مَـنـفرید هوتـر د ۲۰۰۵ په نیمایي کې په خپله وینا کې دې اټکل ته ګوته نیولې وه چې په۲۰۰۳ کې په غټه کچه درې زره هیندو او سیک کورنیو د افغانستان په سیموکې ژوند کولو. نوموړی پوهاند زیاتوي چې «افغانستان هیڅکله هم په هغو غټـو هیوادونو کې نــه راځي چې هیدویزم پکې چلیده. له اسلام نه په وړاندې وختونو کې، افغانستان د ایراني زردشتي نفوذ(۸/۷ پیـړۍ)په سیمه کې راتلو چې بیا یې د اسلام په راتلو سره نفوذ له مینځه لاړ، او ختیـزې اوشمال ختـیـزې برخې یې د بودیزم او نورو هیندي دیني مفکورو د اغیز لاندې وې. په وروستیـو دوه تر درې پیـړیو کې هیندویزم بیا

افغانستان ته راورسید.... د ۱۹۹۰زییز کالونو په پیل کې، د هیندوانو[هیندیانو] شمیر نږدې پنځوس زره تنو ته رسیده چې په جلال اباد، لغمان، کابل او کندهار کې اوسیدل.»

## د سیکیزم عقیدوي ډکون

سیکیزم اوس په نړۍ کې نهم غټ دین دی چې ۲۵میلیون وګړي لري. سیکیزم په ۱۵ زییزه پیړۍ کې دګورو نانک (۱۴۶۹تر ۱۵۳۹) له لارې رامینځته شو. هغه دهیندو په څیر زیږیدلی و، خو دهیندویزم غټ ټکي يې رد کړل. هیڅوک نپوهیږي چې د سیک یا سیکیزم واقعي معنا کومه ده. سیکیزم یوانګریزي لفظ دی چې د لسوګوروګانو له زده کړو او ښودنو نراوتلی دی. سیکیزم ته «ګورومات» هم ویل کیږي چې دګوروګانو نظریې او مفکورې پکې راغونډې شوې دي.
سیکیزم د خدای په اساسي عقیده راچاپیر دی چې خدای یو دی، په داسې حال کې چې خدای بیلابیل نومونه او شکلونه لرلی شي. د سیکیزم بله اساسي مفکوره د ټولنې په خدمت او د انسانانو په سمسمکیتوب (مساویتوب) ولاړه ده. په سیکیزم کې د «لنګر» رواج هم ارزښتناک دی چې په عبادتځای (ګوردواره) کې په ګډ پخلیځای را څرخي او هرچا ته پکې خوراک وړیا ورکول کیږي. په سیکیزم کې ټولو دینونو ته درناوی کیږي او اعتباري ګڼل کیږي. دغه شان په سیکیزم کې د خلکو د عقیدې، مذهب او رنګ (تور او سپین) توپیر نشته. که څه هم سیکیزم د هیندویزم سره تاریخي او جغرافیایي ورته والی لري، له هیندویزم نه راوتلی نه دی.
د هیندویزم په خلاف، سیکیزم په توحید ولاړ دی، او د بُت، مجسمې او ذهني تصویر عبادت نه مني؛ ځکه چې په سیکیزم کې خدای بې پای، لایتناهي، بې جسمه، بې شکله، تلپاتې، نه ویجاړیدونکی دی او نه لیدل کیږي. یو خدای چې نوم يې حقیقت دی، دټولو خالق دی، نه ډار لري، نه نفرت لري، تلپاتې دی، نه زیږیدلی دی، خپل په خپله موجود دی.
« ګورو» په سانسکریت ژبه کې هغه چا ته ویل کیږي چې له ذهن/عقیدې نه تیاره لرې کوي. یعني ګورو مفسر دی، لارښود دی، ښوونکی/معلم دی. ګورو دخدای پوهه د هغه بندګانو ته رسوي. نانک په لس ګوروګانو کې لومړی ګورو و. سیکیزم لس ګوروګان لرل: ګورو نانک(۱۴۶۹تر ۱۵۳۹)، ګورو انګاد (۱۵۰۴ تر ۱۵۵۲)، ګورو امرداس (۱۴۷۹تر ۱۵۷۴)، ګورو رامداس( ۱۵۳۴ تر ۱۵۸۱)، ګورو ارجان (۱۵۶۳تر۱۶۰۶)، ګورو هارګوبیند( ۱۵۹۵ تر ۱۶۴۴)، ګورو هار رای( ۱۶۳۰تر ۱۶۶۱)، ګورو هار کریشان(۱۶۵۶ تر ۱۶۶۴: په پینځه کلنۍ کې تر ټولو ځوان ګورو و)، ګورو تیغ بهادر (۱۶۲۱تر ۱۶۷۵)، ګورو ګوبیند سینګ (۱۶۵۶تر ۱۷۰۸).
په سیکیزم کې د ذهن/شعور پاکي ډیر ارزښت لري. انسانان د خدای په وړاندې مساوي دي او هر انسان د ژوند حق لري. نجات د انسان په اعمالو کې پروت دی. په کورنۍ کې ژوند مهم ګڼل شوی دی. سیکان باید د خپلو عایداتو لږترلږه لس سلنې (۱۰٪) د خپل ولس په خدمت او مرسته کې او د خدای په خدمت کې ولګوي. یو سیک باید د خدای اراده ومني. مادیاتو ته باید ډیره پاملرنه ونشي. بې ارزښته وینا لکه لافې، چغلې او دروغ جایز نه دي. د تمباکو، شرابو(الکهولو) ... نه باید ځانونه لرې وساتل شي. سیک باید ځان له تعصب، تبعیض، کینې او بې عدالتۍ نه لرې وساتي. «لنګر» په عبادتځای( ګورودواره) کې د هر چا لپاره د ترکارۍ وړیا خوراک دی، ځکه چې ترکاري په ټولو دینونو کې کارول کیږي. د سیکانو د عبادتځای پخوانی نوم «درمسال» و[په جلال اباد کې هم ورت درمسال ویل کیده]. په ګورودواره کې د سیکانو سپیڅلی عبادتي کتاب («ګورو ګرانت صاحب») پروت وي. په دغه کتاب کې ۱۴۳۰ مخونه، ۵۸۹۴ مقولې، ضرب المثلونه، دیني سرودونه، او د هیند په بیلابیلو برخو کې د ۱۵ هیندو او مسلمان شخصیتونو کړاندې خوندي شوي دي.
درمسال ته سرپټ او پښې لوڅ ننوتل مجاز دي. سیکان په یو خدای عقیده لري چې د هغوي په ژبه (پنجابي) کې ورته «وهیګورو» وایي. نارینه او ښځینه بالغ سیکان د درمسال په بیلابیلو اړخونو کې کښیني. ماشومان په هر اړخ کې کښیناستلی شي. څوک چې نشه او مست وي یا الکهول ورسره وي، درمسال ته د ننوتلو اجاه نلري. د سیکانو غټ عبادتځای په

«امریتسر» کي دی. سیکان په یو ستر جهانشمول خدای (اومکاربراهمن) عقیده لري چي نه شکل لري، نه ځانګړی نوم لري، نه بل (ثاني) لري

“One Omkar, having the name of Truth, Creator of all, Without Fear, Without Hatred, Eternal, Self-existent, and the giver of Guru’s blessing.”

په لنډ ډول د سیکیزم د ارزښتونو څلور غټي څنډي دادي: (۱) تواضع، خیرات او مرسته. (۲) سربښندنه، ایمان، وفامني، اوتفکر(کانتیمپلیشن). (۳) خلاقیت او شریفانه فعالیت. (۴) د ټولني خدمت او د انسانانو مساوي والی.

د باچا خان فخر افغان نظر د برتانوي هیند د ویش او په صوبه سرحد کي د هیندوانو او سیکانو په اړه

د مُسلیم لیګ ګوند مشر محمد علي جناح د ۱۹۴۶ د اګیست په ۱۶(۱۸رمضان ۱۳۶۵) نیغ عمل (ډایریکټ اکشن) اعلان کړ چي «موږ باید یا ویشل شوی هیند ولرو یا ړنګ شوی هیند»:

“We shall have either a divided India or a destroyed India”[telegraphindia.com: ۱۹/۹/۲۰۱۶].

لکه چي وینو، دغه اعلان د روژې په میاشت کي وشو، په هغه میاشت کي چي د مسلمانانو په زړونو کي جګ مقام لري! دغه ورځ (۱۸ رمضان/۱۶ اګیست) ښایي د دې لپاره غوره شوې وه چي د هیند مسلمانانو ته د اسلام د پیغمبر د «بدر» جګړه او ورپسي د روژې په میاشت کي د مکي د نیولو جګړه ور په زړه کړي، او په دې ډول د هیند د مسلمانانو په زړونو کي د غیر مسلمانانو په ضد د هغوی اسلامي احساسات راوپاروي. را به شو د باچا خان فخرافغان نظر ته چي په لر افغانستان کي د «خدايي خدمتګار» موسس و،او د مهاتما ګاندي سره یي ملګرتیا لرله. لاندي به د عبداالغفارخان باچاخان خپله وینا وړاندي کړم:

مسلم لیګ د انګریزانو پیداوار وو...د امن او سلامتی د خرابولو دپاره مسلم لیګ او فرنګیان په یوه سلا وو....په صوبه سرحد [لر افغانستان] کي د خدایی خدمتګاری د تحریک په وجه د مسلمانانو، هندوانو او سیکانو تعلقات ډیرښه وو، ښه څه چي د ورونو په شان وو، دا تحریک د خدای د مخلوق د خدمت او انسانیت تحریک و. دې تحریک په مسلمانانو، هندوانو [او] سیکانوکي د میني محبت اوخدمت جذبه پیدا کړې وه، چي پخوا یي مثال نه و. دا تحریک کلیوال تحریک و، مرکز یي هم په کلي کي و، ځکه چي اکثریت قوم په کلو کي اوسي....دا تحریک د کلو نه شروع شو او په ښارونو کي خور شو....[بهار د هیند په راجستان کي دی او له ډهلي نه ۱۷۸ میله(۲۸۶کیلو متره) لري دی]. په بهار کي چي کوم فسادونه وشول نو زموږ د صوبي [ صوبه سرحد:لر افغانستان] د مسلم لیګ رضاکاران بهار ته لاړل، دوی خدمت له تللي نه وو، دوی په هیندو او مسلمان کي نفرت زیاتولوله تللي وو، او چي د هغي ځای نه واپس راتلل نو ډیر هډوکي یي له ځان سره راوړل، او په سرحد کي یي کلي په کلي وګرځول او زموږپه خلاف یي لویه پراپیګنډه وکړه او مطلب یي دا و، چي په صوبه سرحد کي هم د هیندو او مسلمان او سیک په منځ کي د نفاق او فساد اور بل کړي. ولي فساد یي ونه کړی شو او په خپل مطلب کي کامیا ب نه شول، ولي چي دلته د خدایي خدمتګارو د تحریک په برکت د فساد او دښمنی جرړي ایستلي شوي وې.»

خو چي کله وایسرا مونټ بیټن«د هندوستان د تقسیم اعلان وکړو او دایي وویل چي په صوبه سرحدکي به ریفرینډم کیږي،د دې زموږ په صوبه ډیر خراب اثر وشو او دلته هم فسادونه شروع شول[ځکه چي هلته په صوبه سرحد/لر افغانستان کي منتخبه اسمبلی/جرګه شته وه، نوو انتخاباتو ته اړتیا نه وه؛ کانګرس او خدايي خدمتګار پکي بشپړ اکثریت لاره. د برتانوي هیند په نورو اداري واحدونو/صوبو کي چي منتخبي اسمبلی وې، هلته نوو انتخاباتو ته اړتیا نه وه:«موږ خو د مسلم لیګ نه اکثریت ګټلی و، نو بیا بل الیکشن ته څه ضرورت و.» ]. نو بیا مسلم لیګیانو د پیښور په بازارونو او لارو کوڅو کي بیګناه خلک قتلول شروع کړل.




## باچا خان د مهاتما گاندي سره په پېښور کې د هند له ويش نه وړاندې، ۱۹۳۸؟/ويکي پيډيا

د پېښور ښار بازارونه بند شول، هيندوان، سيکان په خپلو کورونو کې قيد وو، بهر ته راوتی نه شول، په کورونو کې هم د دوی عزت، دولت او سرونه محفوظ نه وو.» د خدايي خدمتګار «د حکم د رسيدوسره لس زره خدايي خدمتګار پېښور ته راغلل او د راتلو سره يې هيندوان او سيکان د خپلو کورونونه بهر راوښکل، دکانونه يې پرانيستل او کاررونه يې شروع کړل. د دوی په دکانونو د خدای خدمتګار پيرې ولګيدې چې مسلم ليګان ورته ضرر پيښ نه کړي، او د هيندوانو، سيکانو مال، ځان او عزت محفوظ شو. دغه شان په ټول صوبه [سرحد] کې چې کوم کوم ځايی خدايي خدمتګار ووهلته د هيندوانو،سيکانو مال، ځان، عزت په امن وو. په دوی کې بعضي انګريز پرست هيندوان هم وو چې د پيرنګيانو او [مسلم] ليګيانو په اشارو ګډيدل...که د کانګرس مشرانو زموږ سره بې وفايي کړې نه وی او [دهيند] د تقسيم مسئله يې منلی نه وی نو په صوبه سرحد کې به د هيندوانو، سيکانو او موږ ته دومره د سر او مال زيان نه وی رسيدلی او نه به سيکان او هيندوان دومره تباه او برباد شوي نه وی.» باچاخان فخر افغان دې پايلې ته رسيږي چې: « تر اوسه پورې هغه هيندوان او سيکان چې د صوبه سرحد نه په زور ويستل شوي دي، او هيند ته تللي دي ځان ته اوس هم خدايي خدمتګاران وايي. هر کله چې زه هندوستان ته تللی يم نو هغه مينه او محبت د هغو هيندوانو او سيکانو په زړونو کې محسوسوم. تاسي وګورئ چې څه وخت په هندوستان کې د تقسيم په وخت کې فسادات شروع شول، نو خدايي خدمتګارو دلته [په صوبه سرحد کې] د خپلو هيندوانو او سيکانو د حفاظت د پاره څومره تکليفونه تير کړي دي او کوم ځای کې چې خدايي خدمتګار وو، نو هلته يې دوی بچ کړي او د دوی د مال او ځان حفاظت يې کړی دی. بل طرف ته تاسو کانګرس ته وګورئ چې د هندوستان په هيندو او مسلمان کې يې څومره نفرت پيدا کړو او څومره تشدد يې وکړو، خو حقيقت دا دی چې عدم تشدد دهغوي پاليسي وه او زموږعقيده وه اوده!!» ـ ۱۳جولای۱۹۸۱. ولولئ: عبدالغفارخان (باچا خان)۲۰۰۸.

زما ځيرکيار په آند،عبدالغفارخان مشهور په باچاخان او فخرافغان هغه ځلانده معنوي موسسه ده چې په شدله پښتني ټولنه کې يې د معنوي او سياسي موسسو بوزغلی وکاره او سوکه سوکه (ورو په ورو) يې خوبيالی پښتون د څوف اوکوف له منګولو راووېست.

زه ځيرکيار د کابل پوهنتون د ښووني او روزني د پوهنځي له پخواني استاد او رئيس منلي رڼاګل اريوبزي نه دزړه له کومي مننه کوم! ځکه چې پدې ليکنه کې يې په لر افغانستان/پښتونخوا کې دسيکانو او هيندوانو په اړه زما پام په سکاپيي علمي بحث کې دباچاخان فخر افغان کتاب ته (د ۱۳۸۷/۲۰۰۸ چاپ) راوګرځاوه. ځيرکيار

## چینـي او لـنـډي بـډېري


عبدالغفارخان (باچاخان)، زما ژوند او جد و جهد. خپرندوی: د افغـانستان د کلتوري ودې ټولنه جرمنی. چاپځای: دانش خپرندوی ټولنه، پېښور: ۲۰۰۸، مخونه: ۷۷۰ تر ۷۸۶. د باچاخان ددې کتاب د لاسي نسخې په ساتنه کې ښوواند عبدالله بختاني خدمتګار[خدايي خدمتګار] درونډ مسولیت ادا کړی دی. زما ډېرو معلوماتو له مخې پوهاند بختانی خدمتګار، باچاخان فخرافغان ته ډېر نږدې و او په افغانستان کې لومړی خدايي خدمتګار دی.

Dr. Gunisha Kaur, Lost in History: ۱۹۸٤ Reconstructed. Sikh Spirit Foundation. ۲nd ed., ۲۰۰۹

د میرمن ډاکټر ګونیشا کاور دا کتاب په ۱۹۸۰ او لومړیو ۱۹۹۰ کالونو کې د سیکانو د تازه موضوعګانو دڅېړنې لپاره دمراجعې ښه کتاب دی، په تېره د بشر په حقوقو باندې د تیري د څېړنې لپاره. لیکواله د بشر د حقوقو فعالیت کړه هم ده.

Patwant Singh, The Sikhs. Paperback, ۲۰۰۱

په دې کتاب کې د سیکانو تاریخ له ۱۵ پیړی تر اندیرا ګاندي څېړل شوی دی. په ۱۹۸۴ کې د سیکانو په عبادتي مرکز برید وشو اود ۳۰۰۰ سیکانو ژوند پکې په نوي ډیلي کې پای ته ورسید. خو لیکوال نه وايي چې ولې هیندي عسکر د سیکانو په مقابل کې ودریدل. ښايي د سیکانو مساواتي نظام به د هیندوانو د طایفوي نظام سره په ټکر کې و؟ بوديزم په هیند کې وزیږیده، خو هلته يي پرمختګ ونکړ. [اندیرا ګاندي دهیند د ملي کانګرس کوټلی شخصیت و او دوه ځلې لومړی وزیره شوې وه:۱۹۶۶ تر۱۹۷۷؛ ۱۹۸۰ تر ۱۹۸۴. هغه د خپل دوه سیک محافظانو له خوا د ۱۹۸۴ د اکتوبر په ۳۱ ووژل شوه. «خالصتان» په پنجاب سیمه کې د سیک ملیګرانو د سیاسي خپلواکی خوځښت و. کله چې په ۱۹۴۰ کې مسلم لیګ په خپل پریکړه لیک کې د مسلمانانو بیل اسلامي هیواد وغوښت، د سیک مشرانو یوه ډله اندیښمنه شوه چې د راتلونکو هیندي او اسلامي دولتونو په جوړیدا سره به د سیکانو ټولنه بې دولته پاتې شي. له دې امله سیکانو د «خالصتان» مفکوری ته ډېره ولګوله چې په لوې پنجابستان کې به د سیکانو دیني واکمنی ته لار هواروي] - څېرکیار

Patwan Singh and Harinder Kaur Sekhon, Garland Arounf My Neck: The Story of Puran Singh of Pingalwara. ۲۰۰۱

دا کتاب دبې وزلو، تش لاسو، معیوبانو، کړېدلو او د ټولنې د ټیټې پټې د انسانانو په غوړونو کې د بشر دوستی او نوع دوستی اذان کوي!

Centennial Foundation, ۲۰۰٦. Dr. I. J. Singh, The World According to Sikhi.

دا کتاب د سیک فلسفه د کټنې لاندې نیسي او د نوي ټولنې په بلنو (چیلینجونو) يې ازموي. دا کتاب يو معنوي سفر دی د ځان پېژندنې لپاره او يوه ډېوه ده د مساوات - طلبي ټولنې د مینډلو لپاره!

Eknath Easwaran, Nonviolent Soldier of Islam: Badshah Khan, A man to Match His mountains. (Tomales, California ۹٤۹۷۱: Nilgiri Press P.O. Box ۲٥٦), ۱۹۸٤, ۲nd edition ۱۹۹۹

د دې کتاب د لومړي انګریزي چاپ (۱۹۸۴) سرلیک د دوهم چاپ (۱۹۹۹) د انګریزي سرلیک سرچپه لیکل شوی و. د دوهم چاپ (۱۹۹۹) سرلیک زما په ورانديز مخکې – وروسته شو په دې دلیل چې ډېر خلک دغه سرلیک ته متوجه کيږي؛ «د اسلام بې تاوه عسکر» لویدیزوالو ته یوه نوې ښکارنده (پدیده) ده او اسلام د نړی دوهم غټ دین دی. په دې ډول مو په یو غشي دوه مرغی وویشتلې.


## ویبسـایـټـونـه


Dr. Sher Zaman Taizai, Bacha Khan in Afghanistan," June ۲۰۰۲[asianreflection.com ۲۲ September ۲۰۱٦]; Hamid Shalizi, Afghanistan's dwindling Sikh, Hidu communities flee new abuses.

Reuters.com[۱۲ September ۲۰۱٦]; Hinduwebsite.com [۱۱ September ۲۰۱٦]: afghan-hindu-germany.de [۱۰ September ۲۰۱٦]; Sikhsexodus.com[ ۹ September ۲۰۱٦]; Concepts of Sikhism. Compiled and Edited by: Dr. J.S. Mann,MD & Dr. S.S. Sodhi, Ph.D. Halifax, Nova Scotia, Canada; Zentralrat der afghanischen Hidus and Sikhs in Deutschland e.V.; U.S. Department of State's International Religious Freedom Report, ۲۰۰۷[ ۱۰ September ۲۰۱٦]; Sikhism, Basic Concepts. Compiled by: Jayaram [۱۱ September ۲۰۱٦].

ډاکتر رحمت ربی ځیرکیار